شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۵/۰۹

# د ایران، امریکا او اسرایلو جګړه

## (ځلورمه او وروستۍبرخه)

د امریکا، اسرائیلو له ایران سره د جګړې یو اساسي لامل د یورانییمو د غنی کولو مخنیوي، د اتومي وسلو د جوړولو وېره او په ټوله کې د ایران د اوسني خپلواک نظام ټوټه کول، پر ځای یې د دوي د خوښې یو ګوډاګی حکومت د ایران پر ولس تپل دي، مګر رواني جګړې وښوده چې د هرموز تنګی بله هغه اتومي وسله ده چې ایران د دغه تنګي د بندولو له لارې د جګړې ستراتیژۍ بدلولی شي.

### ده رموز تنګی:

دهرمز تنګی د نړۍ له هغو مهمو بحري لارو څخه شمېرل کېږي چې له فارس خلیج څخه د عمان خلیج او هند سمندر ته غزېدلي ده. دا تنګی نږدې ۵۰ کیلومتره پلنوالی لري، خو د تېرېدلو اصلي مسیر یې یوازې شاوخوا ۳ کیلومتره پراخوالی لري. هره ورځ د نړۍ نږدې ٪۲۰ نفت، چې له سعودي عربستان، ایران، عراق، متحده عرب اماراتو، کویټ او قطر څخه صادرېږي، له همدې لارې نړیوالو بازارونو ته رسېږي. د دې تنګي جیوپولیتیکي موقعیت د نړیوالو او سیمه ایزو قدرتونو د پاره حیاتي ارزښت لري.

### نړیوال قوانین:

د نړیوالو قوانینو له مخې، په ځانګړي ډول د ۱۹۸۲ م کال د ملګرو ملتونو د سمندري قانون کنوانسیون پر بنسټ، هغه تنګي چې د نړیوالو سمندري مسیرونو ترمنځ نښلونکی حیثیت لري، نړیوال تنګي بلل کېږي. د دغه کنوانسیون له مخې، ټولو بېړیو ته د آزاد عبور حق تضمین شوی دی، او هېڅ هېواد نشي کولای دا ډول تنګي د نورو هېوادونو پر مخ بند کړي، که څه هم دا تنګی د هغه هېواد د اقتصادي سیمې یوه برخه هم وي.

ایران که څه هم د دې کنوانسیون رسمي غړی نه دی، خو دا قواعد د نړیوالو اصولو د قانون یوه برخه ګرځېدلي او پر ټولو هېوادونو یې تدبیق لازم ګرزول شوی دی.

### په تېر کې د ایران له خوا د هرمز تنګي تړل او متقابل عکس العملونه:

ایران په تېرو څو لسیزو کې څو ځله د هرمز تنګی د بندولو ګواښ کړی. د ایران او عراق د جګړې پر مهال (۱۹۸۰–۱۹۸۸) کلونو کې ایران هڅه وکړه چې د خلیج فارس د نفتو ټانکرونه وځپي، خو د امریکا د پوځي حضور له امله یې و نه شو کولای دغه لار وتړي.

په ۲۰۱۱–۲۰۱۲ کلونو کې، کله چې لوېدیځو هېوادونو د ایران پر ضد د اتومي پروګرام له امله بندیزونه ولګول، ایران یو ځل بیا دا ګواښ وکړ، خو د امریکا او نړیوالو ځواکمنو هېوادونو د غبرګونونو له امله دا ګواښونه بې نتیجې پا تې شول، په حقیقت کې دا ګواښونه د سیاسي فشار یوه وسیله وه، خو په عمل کې یې بیا دا اقدام ونه شو کړای.
د ایران، اسرائیل او امریکا ترمنځ په اوسنی شخړه او جګړه کې هم ایران د هرمز تنګي د تړلو تازه ګواښونه وکړل او د دغه تنګي د تړلو له امله د تیلو د بوشکو قیمتونه په لوړیدو شول او نړیوال تشویشونه یې راوپارول، د هرموز تنګي تړل او په جګړه کې د ایران برلاسي یو له همدې لاملونو نه و، چې ترامپ دې ته اړ شو چې د مذاکراتو لار غوره کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ایران، اسرائیل او امریکا ترمنځ جګړو یو ځل بیا دا موضوع را ګرمه کړه، په ځانګړي ډول پر ایران د اسرائیلو او امریکا بریدونو ایران یو ځل بیا دې ته اړویست چې د هرمز تنګي د تړلو ګواښ وکړی، تر څو د امریکا او اسرائیلو د بریدونو په غچ کې یې د انتقام وسیله وګرزوي.

خو د هرمز د تنګي بندښت به نه یوازې د د غې جګړې اور ګړندی کړي، حتا د دې امکانات لیدل کېږي چې اروپایي او یو شمېر نور هېوادونه د امریکا تر څنګ و دروي.

دا چې د هرمز تنګی د نړیوالو انرژیو د انتقال یو مهم شریان دی، د بندولو هڅه به نه یوازې امریکا ته د منلو وړ نه وي، بلکې اروپا او سیمه ایز هیوادونه به یې هم د ځان په مقابل کې یوه اقتصادي جګړه محسوس کړي چې، ممکن دغه هېوادونه هم پر امریکا فشار راوړي، تر څو د جګړې پر ځای دیپلوماتیکو هڅو ته اولیت ورکړي.

دا چې پر هرمز تنګي د ایران واک یو څه ډېر دی او له بله پلوه ترامپ هم هر کله له نړیوالو اصولو نه سرغړونه کوي، نو ځکه ممکن ایران هم د هرمز د تنګي په هکله نړیوالو قوانینو ته پاملرنه ونه کړي او د تنګي د تړلو فشار نه بیا هم کار واخلي.

### د غرب او نړۍ له پاره هرمز تنګی ولې مهم دی؟

هرمز تنګی نه یوازې اروپایي هېوادونو ته، بلکې د سپیک هېوادونو او چین ته هم ډېر اړین دی، تر څو د تل له پاره خلاص و اوسي. د هرمز تنګي له لارې د منځني ختیځ تېول نفت اروپایي هېوادونو ته تېرېږي. یوازې د ایران، امریکا ـ اسراییلو په تازه کړکېچ کې په اروپایي بازارونو کې د نفتو بیې دومره لوړې شوې چې په تېرو دریو کلونو کې نه وې لوړې شوې.

په هر یوه کال کې د دې تنګي څخه کابو د ۵۸۴میلیارده ډالرو د تېلو صادرات تېرېږي چې ډېری یې سعودي عربستان، عراق، ایران، کویټ، او قطر صادروي. دا نفت او طبیعي ګاز بیا اروپا، امریکا، او نورو صنعتي هېوادونو ته ځي. که دا لاره هرکله بندیږي، نو په نړیوالو بازارونو کې نفتو ته تقاضا ډېریږي، عرضه کمېږي او بیې په طبیعي ډول لوړیږي.

امریکا او اروپایي هېوادونه غواړي چې د نړۍ مهمي ترانزیتي لارې، لکه هرمز تنګی او نور، په یو ډول خلاصې او خوندي پاتې وي. که ایران دا تنګی د سیاسي فشار په توګه وکاروي، نو دا به د لوېدیځو هېوادونو له پاره هم ستر ګواښ وي. په دې وروستیو کې د ترامپ له لوري داسې ویل کېږي چې امریکا غواړي په زور او فشار سره له هرمز تنګي نه د ایران فشار او واک لېرې کړي، نو ځکه یې د دغه تنګي د محاصرې په چارو لاس پورې کړ.
د تېرې دوشنبې په ورځ دونالډ ترامپ ګواښ وکړ او د ازادۍ د پروژې په نامه یې اعلان وکړ چې د هرموز تنګی نور د تل له پاره ازاد او د ایران له کنترول نه ووته، مګر ۲۴ ساعته وروسته سل په سلو کې د هغه ګواښ او خبرې دروغ وختې او رالیږل شوو جنګي بیړیو یې شاته تګ وکړ او دغه تنګی همدا اوس د ایران په کنترول کې دی، د ترمپ وېره او شاته تګ ممکن د دې له امله وي چې د ایران مذهبي مشر د اتومی وسلو د درلودلو او استعمال ګواښ وکړ.

په لنډ ډول بیا هم ویلی شو چې هرمز تنګی د نړیوالې انرژۍ د انتقال یوه مهم شریان دی. د دې شریان د بندولو اعلان او هڅه به لا نورې ډېرې ستونزې وزېږوي. دا چې اوسمهال تهران د امریکا له خوا له بریدونو او ګڼو بندیزونو سره مخ دی، نو ایران هم پتېیلې ده چې د یوې سیاسي وسیلې په توګه د هرمز له تنګي ګټه واخلي. دا پرېکړه به اوسنۍ شخړه له نظامي جګړې نه اقتصادي جګړې او فشارونو ته سوق کړي او حتی ایران به د سیمې له هېوادونو سره هم پراقتصادي جګړې بوخت شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ